## مطبوعاتي اعلاميه

### اوس هغه وخت رارسیدلی، چې د ډیموکراسۍ او د هغه د مختلط موډل د ناکامۍ له لیدلو وروسته، الله سبحانه و تعالی ته نږدې شو او بیا اسلامي نظام یعنې خلافت ته ور وګرځو

پاکستان د ډیموکراسۍ، دیکتاتورۍ او مختلط موډل د اور له تېرېدلو څخه وروسته یو ځل بیا په دې څلورلارې کې ولاړ دی. د ملي خبرو اترو او د حقایقو او مصالحو د کمیسیون غوښتنه د بېلابېلو ډلو ترمنځ د واک د شریکولو ترون دی، چې دا دې وژونکي نظام ته د نوي سا ورکول دي. په داسې حال کې چې د پاکستان مسلمانان د یو انقلابي بدلون غوښتونکي دي، تر څو دغه دردناک وضعیت ته د پای ټکی کیږدي.

د پاکستان د اوسني حاکم نظام د ماتې اصلي لامل بشر ته د حاکمیت ورکول دي. که څه هم دا یو کس ته وي یا یو مستبد او ظالم ته او یا هم د پارلمان ۳۴۲ نارینه او ښځینه وو غړو ته. د بشر د حاکمیت لپاره، مشرف یو دیکتاتور و چې ویې کولای شوی امریکا ته د ډالرو په مقابل کې خاوره، هوایي دهلیزونه، نظام، استخبارات او سرچینې وروسپاري. په داسې حال کې چې پارلمان یې د اوولسمې مادې په تصویب سره د هغه خیانت ثابت کړ. د همدې بشري حاکمیت په خاطر، د ملي مصالحې د فرمان پر اساس د ملي سرچینو غلا وبښل شوه. د دغه بشري حاکمیت لپاره زرداري او د هغه نږدې ملګرو وکولای شوی چې یوه داسې پالیسي جوړه کړي، ترڅو په CNG کې فساد، دقدرت اجاره کول او له دې څخه ډېر نور لوړ شیان قانوني کړي. دغه بشري حاکمیت «American Raymond Davis» ترهګریزې شبکې ته د ځای پرځای کیدل، په FATA باندې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو عملیات پیل کیدل او د پیسو له نړیوال صندوق(IMF) سره د ترونونو د لاسلیک کولو اجازه ور کړه، چې دا ټول په اسلام کې منع دي.

د نواز شریف د حکومت پر مهال بشري حاکمیت د پیسو له نړیوال صندوق سره ترونونو ته اجازه ورکړه. د ملي عمل پلان(National Action Plan) له مخې د پاکستان په هر ښار کې د امریکا مذهبي جګړه ښکاره او د اساسي قانون د ۲۱مې مادې په تصویب سره یې نوره لاره هم ورته هواره کړله. د CPEC په نامه یې خپلې غوښتنې څو برابره کړلې. د مودي ظلمونو ته یې سر ټیټ کړ او پاکستان یې د غرب په ارزښتونو ککړ کړ. دا د بشر حاکمیت دي چې د باجوه-عمران مختلط رژیم ته یې اجازه ورکړه چې اقتصاد یې د پیسو نړیوال صندوق (IMF) ته وسپاري او د دې پرځای چې اشغال شوی کشمیر د جهاد په وسیله وژغوري، هغه یې مودي ته تسلیم کړ. ګلګت-بالتستان یې په داسې حال کې ولایت ته تبدیل کړ چې د مودي لپاره د اشغال شوي کشمیر د یو ځای کولو (الحاق) لپاره یوه نړیواله توجیه ومومي.

يوازې د خلافت نظام د الله سبحانه و تعالی د قانون د حاکمیت پر اساس کولای شي چې ربښتینی بدلون راوړي. یوازې د خلافت نظام کولای شي چې د الله سبحانه و تعالی د اوامرو په پلي کولو سره کورنی نظام بیا جوړ کړي او د لیبرال چټلو ارزښتونو ته د پای ټکی کیږدي. یوازې خلافت کولای شي چې چټک او وړیا عدالت پلی کړي. د بریتانیا د اشغال د دوران فاسد نظام ته د پای ټکی کیږدي، چې یوازې په مظلومانو حاکم و، یوازې د خلافت نظام به د اسلامي نړی ښارونه د نورې نړی لپاره د علم او هدایت مرکزونه گرځوي. لکه څرنگه چې د ځو پیړیو لپاره همداسې و او هغه فاسد او غیر ستندرد تعلیم ته به د پای ټکی کیږدي چې زموږ ډیری با استعداده ذهنونه یې د نړی هر کونج ته په تیښته مجبور کړل.

یوازې خلافت به دا تضمین کړي چې حاکمان به د اسلام په وسیله د مسلمانانو چارې سمبال کړي. د بشر د حاکمیت څخه را پاتې بدبختیو ته لکه: د نظامي او ملکي تسلط ترمنځ د برتری د نفاق خوځښتونه، د پردې شاته معاملې او د سړک پر سر ډرامو ته به د پای ټکی کیږدي. د دغه ۱۴۴۲ هـ.ق کال، په رجب میاشت کې د اسلامی خلافت د له منځه تللو ۱۰۰هجري کلونه پوره کیږي، په داسې حال کې چې د مسلمانانو لپاره اجازه نشته چې له دریو شپو او ورځو څخه ډیر وخت له خلافت پرته ژوند وکړي. نو قدرت لرونکي خلک پرېږدئ چې له حزب التحریر سره د خلافت د بیا تاسیس لپاره نصرت وکړي او بلاخره داسې حاکمان ولرو چې په هغه څه حکم وکړي، څه چې الله سبحانه و تعالی نازل کړي دي.

**[وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيباً]**

**ژباړه**: *«هغوی به په سر خوځولو پوښتنه وکړي: «نبه نو، دا به کله وي؟» ورته ووایه: «ولې حېرانېږئ؟ هغه وخت نیږدې راتلونکی دی.»* [اسرا: ۵۱]

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲هـ.ق کال، د ربیع الثاني ۲۶مه**

**۲۰۲۰م کال، د ډسمبر ۱۱مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۲/۳۳**